محمد هارون خپل شعشعی


سوم نومبر ۲۰۱۱

## خپلو لیکنو ته علمي او معیاري بڼه ورکئ!

څو کاله مخکې مې د افغاني ويبپاڼو له لارې يوه کوچنوټې مقاله خپره کړې وه . همغه مقاله تر څه ځنډ وروسته ټکی په ټکی تر يوه بېل سرليک لاندې د يوبل چا په نامه خپره سوه. د دې کار په لېدو سره له يوې خوا خوشاله سوم؛ او له بلې خوا خوابدی . خوشاله په دې سوم، چې په پاشلو او خورو وروافغانانوکي مې لږه تر لږه يوملګرى او خواخوږى و موند- داسې څوک چې زما دردونه او سوچونه يې خوښ سوي وه- تر دې حده، چې هر څه يې په ځان پوري تړلي وه؛ خوابدی په دې سوم، چې زما په ژوند کې(کي يې) زما تر سترګو لاندې داسې څه کړي وه، چې په فرهنګي او علمي چاپېر کې ادبي يا علمي غلا بولي.

د« لر او بر » د درني ويبپاڼي و زيارکښ او نوښتګر چلوونکي، ښاغلي عبدالله احسان، ته مې ګيله وکړه . همغه د مضمون د ورلېږونکي ايميل آدرس را کړ. وروسته مې مضمون نقلوونکي ته، چې اتفاقاً په همدې لندن کي اوسېدئ؛ او ښايي تر اوسه هم اوسي، د موضوع په اړه يو لنډکی بريښناليک ولېږه. همغه په خپل جوابي ليک کي را ته وليکل، چې له دې کبله يې زما(هارون خپل) مقاله په خپل نامه ويبپاڼي ته ور لېږلې ده، چې دی هم د افغاني مسألو په وړاندي کټ مټ همدا شان فکر کيي؛ او په مقاله کي طرحه سوي خبري د ټول افغان اولس ګډ درد دئ .

. . ددې افغان ورور له خبرو او« دلايلو» څخه داسي پوه سوم، چې تازه يې و ليکوالی ته شوق کړئ دئ؛ او د پېښوريانو خبره د نورو ليکوالو له اثارو څخه د استفادې کولو چل نه ورځي. له همدې سَوَبه مي تر خپله وسه د فرهنګي مرستي او همکارئ پر ژمني سربېره د هغي ليکني متن ور لېږه، چې ژورناليستانو، ليکوالواو څېړو نکو ته د نورو کسانو له بېلابېلو اثارو څخه د استفادې لارې او مېتودونه ښيي . دا اثر « په تحقيقي ليکنوکي د اِستِناد او ببيليوګرافۍ لنډ لارښود» نوميږي، چې دوو امريکايي ليکوالو ليکنه ده؛ اوڅو کاله مخکې مې له پراخو توضيحاتو او مثالو سره په پښتو ژبه وژباړه . ګران لوستونکي يې د دې لينک په پرانيستلو سره لوستلای سي :

http://larawbar.com/data/library/knowledge/h.khpal/land_larshood.htm#

البته دا ورور یوازنی افغان نه دئ، چي په تېروتني او غلط فهمی سره يي د بل چا ليکنه په خپل نامه خپره کړې وه. موږ گرده ژورناليستان، شاعران، ليکوال، څېړونکي او کره کتوونکي په شعوري يا غير شعوري ډول د يو بل له نظريو، مفکورو، څېړنو، موندنو اونورو فکري - فرهنگي هستونو او نوښتونو څخه گټه اخلو؛ خو ځيني مو د علِم او انصاف له اصولو او غوښتنو سره سم په خپلو ليکنوکي د هغو د نامه اواثارو يادونه کيي (کوي)؛ اوځيني نور مو د «میم زرما ټوله زما» د ځنگلي قاعدې له مخي هر څه په خپل ځان پوري تړي .

په خواشينی سره زموږ ځيني شاعران، ليکوال، محققان او نقادان داسي انگېري، چي که په خپلو اثاروکي د نورو مفکرينو، شاعرانو، ليکوالو، څېړنکو او کره کتوونکو يادونه وکي، نو لوستونکي بې ( به يې) علمي او تحقيقي کوښښو ته په ټيټه سترگه وگوري؛ مگر واقعيت داسي نه دئ. په ژورناليستيکو، تخليقي او تحقيقي ليکنو کي د ماخذو او سرچينو ښوول؛ اوله علمي او معياري موازينو سره سم يي اوډل او وړاندي کول، نه يوازي د ژورناليستيکو، تخليقي، علمي او تحقيقي اثارو ارزښت نه لړيي، بلکي وزن او اعتبار يې لا نور هم زياتيي؛ ځکه د ماخذو او سرچينو په منظمه او دقيقه اوډنه کي دوه لوی او اساسي مقصدونه نغښتي دي :

اول مقصد دا دئ، چي د اِستِناد سوو او متممو ماخذو ښوول، لوستونکو ته د طرحه سوو موضوعاتو په اړه د لا پراخو او هر اړخيزو مالوماتو د را ټولولو امکانات برابريي. په بله ژبه، لوستونکي د معرفي سوو ريفرينسو او حوالو په رڼا کي داسي مواد مومي، چي د راتلونکو ليکنو او څېړنو له بشپړتيا، ژورتيا او پراختيا سره لو( لويه) مرسته کيي .

دوهم مقصد دا دئ، چي لوستونکي کولای سي د وړاندي سوو ماخذو او منابعو په رڼا کي د ليکوال يا څېړونکي د دلايلو او ادعاوو سموالی او کږوالی مالوم کي؛ ځکه د علومو په بېلابېلو برخو او څانگوکي داسي ډېري اختلافي مسألي سته او پيدا کيږي، چي د وضاحت او سپيناوي دپاره يي تل د اصلي ماخذو وليدو ته اړتيا پېښيږي . د ماخذو او منابعو په علمي او معياري ښوولوسره هيڅوک پر چا ډکي نسي تېرولای؛ په يوه گړي کي له درواغو او ناسمو ادعاوو پرده پورته کېدای سي .

له بده مرغه په افغاني ويبپاڼو( پښتو او دري دواړو) کي د داسي ليکوالو او څېړونکو شمېر لږ نه دئ، چي په خپلو ليکنو او څېړنوکي د نورو شاعرانو، ژورناليستانو، ليکوالو، څېړنکو، مفکرانو او نظريه پردازانو له نظريو، افکارو، پلټنو، څېړنو او موندنو څخه پراخه استفاده کيي؛ خو د هغويا گرسره يادونه نه کيي يا يي په داسي ډول يادونه کيي، چي لوستونکي يې په موندنه کي له لوی سرخوږي سره مخامخ کيږي . ځيني د ماخذو او منابعو پر ځای ليکي : تاند، ټول افغان، لر او بر . . . کله کله خو لا حتا د ويبپاڼو د نوم اخيستلو زحمت هم ځان ته نه ورکيي؛ يوازي د دې جوملې په يادونه اکتفأ کيي : اخځونه : بېلابېلي ويبپاڼي .

هر څوک په آسانی سره قضاوت کولای سي، چي دغه راز ماخذ ښوول، لوستونکي ته څه گټه رسولای سي؟ بېچاره لوستونکي به په « تاند»، « ټول افغان »، « بينوا»، « لر او بر» يا نورو بې نومه ويبپاڼو کي د چا چا په اثاروپسي پلټني کيي؟ دا خو زما په گومان همغه د « نخود سياه » کيسه ده .

ځيني نور ليکوال او څېړونکي بيا د خپلي ليکني په متن يا اخير کي د ماخذو او سرچينو په نامه په عمومي ډول څه وړاندي کيي؛ خو لوستونکي په بشپړه او روښانه توگه دا نه وايي، چي کم ( کوم) مطلب يي له کمه ( کومه) ځايه اخيستئ دئ؟ د ليکني علاقمندان اريانيږي، چي د وړاندي سوو موضوعاتو په باب د بشپړو مالوماتو دپاره څنگه او چيري پلټني وکي؛ ځکه چي دې ښاغلو نه د اثر دهستونکي ( ليکوال، مؤلف، ژباړونکي، اوډونکي، سموونکي، حاشيه کښوونکي، تعليقات ليکوونکي او داسي نورو) د پېژندگلوی په اړه، نه يې د اثر د ښه و بد او نه

يي د هغه د خپرېدود جزييياتوپه باره کي د مالومات ورکولو زحمت ايستلئ يي . هغه ورځ د پوهنتون يوه استاد، چي علمي لقب يي په درو لسو نه ورل کيږي، زموږ د هيواد د يوه تاريخي ځای په اړه په « لر اوبر» او « افغان جرمن آن لاين » کي خورا لو او پراخه مقاله کښلي وه؛ او د خپلو دلايلو د زباتولو دپاره يي په څو تاريخي اثارو اِستِناد کړئ ؤ. متأسفانه په دې اثاروکي د ځينو يوازي نوم ياد سوئ ؤ، چي د مقالي له لوستونکو سره د هغو په موندنه کي چندان مرسته نسي کولای؛ ځکه درنو ليکوالو، څېړونکو او کره کتوونکو ته پوره څرګنده ده، چي په لرغوني ادب، تاريخ، تاريخي جغرافيي او داسي نورو علومو پوري تړلي اثار زياتره واحده بڼه نه لري . دا ډول اثار د مختلفو ژباړونکو، مصححانو، حاشيه ليکوونکو او شارحانو له خواپه بېلابېلو هيوادو کي چاپ سوي او لاچاپيږي، چي هر چاپ يي يوله بله پراخ توپيرونه لري؛ د مثال په توګه « تاريخ بيهقی » څو پلاد بېلابېلو مصححانو او شارحانو په زيار په مختلفو هيوادوکي چاپ سوئ دئ، چي د هر يوه متن، حاشيي، تعليقات، د خپرېدو ځای، کال او نور جزييات يوله بله فرق لري.

« حدود العالم من المشرق الی المغرب »، « البلدان »، «معجم البلدان »، « شاهنامه » ، « مثنوی معنوی »، « پټه خزانه » او په زرګونو نورټول هغه اثار دي، چي په بېلابېلو ژبو ترجمه سوي دي؛ او په هره ژبه کي څو څو واره، د بېلابېلو څېړونکو له خوا، په مختلفو بڼو چاپ سوي دي. په لرغونو شعري ديوانو کي داسي ډېر ليدل سوی دي، چي د يوه شاعر د ديوان په يوه چاپ کي د مثال په توګه سل غزلي را غونډي سوي يي؛ په بل کي يو سل و لس غزلي؛ او په يوه بل چاپ کي، له ډېرو قلمي نسخو څخه په ډېر زيار ، يو سل و دېرش غزلي را غونډي سوي يي . په داسي شرايطو او حالاتو کي د د يوان محتوياتو ته په پام نه کولو سره، يوازي د هغه پر نامه حواله ورکول، زما په نظر له د پيسو له هغي حوالي سره ورته والی لري، چي نې ( نه يې) د حواله والا دقيق نوم او نښان مالوم يي؛ او نې د برياکولو دقيقه پټه مالومه يي . له بله پلوه که له لوستونکو څخه توقع کوو، چي د اماکنو يا اشخاصو د نومو يا بلي کوچنی مسألي د صحت او سقم دپاره اِستِناد سوئ کتاب سر تر پايه وګوري، دا خو په واقعيت کي لويه بې انصافي ده . د دغو دلايلو پر اساس بايد د يوه اثر د سمي او دقيقي پېژندني دپاره نه يوازي دا درې برخي هيڅکله له ياده و نباسو، بلکي د اړوند مخ يا صفحي لمبر يي هم په واضح ډول وښيو:

### الف) د اثر د هستونکی يا موجد پېژندګلوي

د اثر د هستونکي په اړه بايد دغو پوښتنو ته جوابونه وموندل سي :

- د يوه اثر ايجادونکی( شاعر، کمپوزر، سندرغاړی، ليکوال، مؤلف، څېړونکی، مترجم، مصحح، محشي، شارح، مُکمِل او داسي نور) څوک دئ ؟ نوم، تخلص او نور بېلوونکي القاب او صفتونه (مُلا، مولوي، امير، قاضي، حاجي، استاد، پوهاند، ډاکټر، انجينير او داسي نور) يي څه دي؟ ايا اثر په يوه شخص پوري اړه لري، که د دوو، څو يا ډله ييزو کسانود زيار او کوښښ نتيجه ده؟ ځکه هغه اثر، چي يوه ليکوال يا مؤلف ليکلئ يي له هغه اثر څخه په معرفي کولو کي توپير لري، چي دوو يا څو ليکوالو له خوا کښل سوئ يي . همدغه راز هغه اثار ، چي د ډله ييزو يا ګروپي مؤلفانو له خوا ليکل سوي يي( لکه پوهنغونډ يا دايرة المعارف، قاموسونه، کلنی او داسي نور) هم په معرفي کولو کي ځانګړي لاري لري . تر دې، چي تېر سو، نومورکي يا ناپېژندل سوي مؤلفان او ليکوال هم بايد په خپله خاصه بڼه وښوول سي؛ او د هغو اثارو وپېژندګلوی ته هم پوره پام وسي، چي په مستعار نومو ليکل کيږي .

**ب) د اثر پېژندګلوي**

د یوه اثر د بشپړي او هر اړخیزي پېژندګلوۍ دپاره باید دې ټکو ته جدي پام وسي :

- ایا اثر نوم یا عنوان لري که یا؟ کې لري، نوم یې څه دئ؟

- که اثر په بهرنۍ ژبه لیکل سوئ یې، بیا نو دا خبره باید هرومرو روښانه سي، چي په لیکنه کي له کمي ترجمي څخه استفاده سوې ده؟

- اثر څو ټوکه ( جلده) دئ؟ له کم ټوک څخه یې استفاده سوې ده؟

- اثر څو پلا چاپ سوئ دئ؟ له کم چاپ څخه یې استفاده سوې ده؟

- د اثر د چاپ بڼه څه ډول ده؟ په بله ژبه، اثر په کمه بڼه چاپ سو ئ دئ : سنګي یا ډبرین چاپ، عکسي چاپ، رنګه چاپ، آفسیټ چاپ او داسي نور. البته کتاب، مجله، مهالنۍ، ورځپاڼه، قانوني خپروني، لرغوني اثار او داسي نور هر یو د معرفي کولو بېلي لاري لري .

**ج) د اثر د خپرېدو جزییات څه دي؟**

د یوه اثر د معرفي کولو دریمه برخه د هغه د خپرېدو جزییات دي، چي په هغو کي باید دغه ټکي له پامه و نه غورځول سي :

- اثر د کمي خپرندویه یا نشراتي مؤسسي له خوا خپور سوئ دئ؟

- د اثر د خپرېدو ځای او نېټه څه ده؟

- که اثر خطي یا قلمي بڼه ولري . باید دا خبره هم روښانه سي، چي له کمي خطي نسخي څخه استفاده سوې ده؟ د دې مقصد دپاره زیاتره د خطي نسخي دکاتب یا استنساخ کوونکي د نامه، د استنساخ د نېټي او د هغي څښتن د نامه یادونه کیږي . که څوک و وایي، چي د برټیش کتابتون له پلانی لمبر خطي نسخي څخه مي استفاده کړې ده، دا ډول ریفرینس ورکول هیڅ مشکل او پېچومه نه پېښیږي؛ ځکه د برټیش کتابخانې ټولي خطي نسخي په منظمو فهرستوکي تشریح سوي دي؛ او د الماریٔ د لمبر یا شمېرې له مخي په ډېرې اسانۍ پیدا کېدلای سي .

- که چیري د اثر د خپرېدو یوه یا څو برخي نه یې مالومي، بیا نو د لوستونکو د خبرولو دپاره باید په روښانه ټکو یادونه وسي، چي د اثر د خپروونکي مؤسسي نوم ، د خپرېدو ځای یا کال مالوم نه دي .

په اینټرنیټ کي د خپروو سوو ماخذو او سرچینو د پېژندګلوۍ دپاره په لنډه توګه کولای سو د استناد سوي اثر اینټرنیټي لینک په خپله اصلي بڼه وړاندي کو یا دا چي په نسبتاً مفصله بڼه اول د اثر د څښتن نوم، د اثر نوم یا سرلیک، د خپروونکي ویبپاڼي پته او د اثر د خپرېدو نېټه وښیو؛ او بیا یې په اینټرنیټ کي خپور سوئ لینک څنګ ته ولیکو.

د علمي او تحقیقي اثارو د مستند کولو پوهانو او ماهرانو د دې درو برخو د تنظیم او ترتیب دپاره هم ځانګړي اصول او قواعد ټاکلي دي، چي د هغو رعایت لیکنو ته علمي او معیاري بڼه ورکیي . په دې اصولو او قواعدوکي د علومو هري څانګي ځانګړي معیارونه لوی رول لري . البته، تر هغه ځایه چي د اثارو د موندني او لاسته راوړني کار ګران او پېچلئ نه کړي، لیکوال او څېړونکي کولای سي، د یادو سوو درو برخو په اوډنه او ترتیب کي خپل ذوق او سلیقه هم په پام کي ونیسي .

د همدغو اړتیاوو له مخي باید د افغانستان د لوړو او مسلکي زده کړو وزارت د هیواد د ټولو پوهنتونو په تعلیمي نصاب کي د داسي یوه مضمون پر شاملولو جدي غوَر وکي، چي محصلان د لیکني او څېړني له اساسي اصولو

سره اشنا کي؛ ځکه د ټولو علمي څانگو محصلان، پر تحصیلي دوره  سربېره د عملي کار او فعالیت په ډگر کي و دغه راز لاربښوونو ته ټینگه اړتیا لري . زما په گومان د پوهنتونو له مهمو وظایفو څخه یوه داهم ده، چي د اصلي مضامینو تر څنگ، محصلانوته په خپلو علمي او مسلکي څانگو کي د لیکني، پلټني او شنني اساسي او مقدماتي لاري چاري هم وښيي .